**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۴/ ربيع الأول /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ٦/ ميزان /۱۴۰۳هـ، ش**

# د يوې واقعي مسلمانې کورنۍ صفات

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله رب العالمين، القائل في كتابه الكريم:{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجاً لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ}الروم: (۲۱)

وأفضل الصلاة وأتمُّ التسليم على المبعوث رحمة للعالمين محمد و على آله وصحبه أجمعين وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد:

دالله جل جلاله دسترو نعمتونو څخه يو هم دانسان کور او کورنۍ ده چې دسترپا څخه وروسته ورته راګرځي او په کورکې راحت او دمه اخلي او سکون ورته په کې حاصليږي؛ ځکه په کورکې هغه د کور اعضاء اوسيږي چې د هغو په ليدو او ورسره په ناسته کې انسان ته سکون حاصليږي لکه مور، پلار، نيکه ، نيا، ورونه، او خويندې او اولادونه چې کورنۍ ورته ويل کيږي. الله جل جلاله د کور او کورنۍ د نعمت يادونه کړی ده او فرمايي: { وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا}.النحل: (۸۰).

ترجمه:- او الله تاسو لپاره ستاسو له کورونو نه د استوګنې ځايونه جوړ کړي دي
نو کوراو کورنۍ د سکون ځای دی او دالله تعالی رحمت دی. حافظ ابن کثير دپورتني آيت په تفسير کې ليکي: الله تعالی د خپلو ټولو نعمتونو يادونه کوي چې په خپلو بندګانو يې کړي دي چې د هغې له جملې څخه د هغو کورونه دي، هغه کورونه چې ددوی لپاره د سکون ځايونه دي هغوی کورونو ته راګرځي او ځانونه په کې په پرده کې ساتي او له کورونو څخه مختلف قسم ګټه اخلي.تفسيرابن کثير(۲/ ۷۰٦)
مسلمانه کورنۍ د هغه نيکبختته ټولنې دبنياد او اساس ښخته ده چې پر الهي منهج ولاړه وي، مسلمانان به دمسلمانې کورنۍ په قدر او ارزښت هله پوه شي چې کله د هغو خلکو حالت ووينې چې د مسلمانې کورنۍ د نعمت څخه محرومه دي او شپې اوورځې په بوټ پاکونو، پارکونو، د سرک په سرونو تيروي او داسې ځای نلري چې دوی په کې ارام واخلي او خاطريې په کې جمع شي او دکورنۍ داعضاوو پرځای خپل وخت له سپو او پيشو ګانو سره تيروي.
په اسلام کې مسلمانه کورنۍ زيات اهميت لري؛ ځکه چې مسلمانه کورنۍ داسلامي امت د روزنې لپاره ريښتينې، حقيقي او لومړنۍ مدرسه ده چې په دې مدرسه په ايمان ولاړ سياسيون، علماء، قاضيان، معلمين، طلاب او مجاهدين تربيه کيږي او دا مدرسه ټولنې ته امين او زړه سواندې رهبران تقديموي. په مسلمانه کورنۍ کې صالحه او با ايمانه ، باعفته خويندې، ميندې او ښځې تربيه کيږي.
په اسلام کې مسلمانه کورنۍ يو ارزښت دی، ددې اهميت او ارزښت ددرک په اساس غرب تل کوښښ کوي چې مسلمانه کورنۍ بې لارې کړي، مسلمانه کورنۍ بې عفته کړي، مسلمانه کورنۍ بې حياء کړي، مسلمانه کورنۍ بې لارې کړي او بالآخره مسلمانه

کورنۍ وپاشي او له منځه يي يوسي.
کفري نړۍ شپه اوورځ په دې لګیا ده چې څرنګه ، په کومو لارو او دسیسو سره د مسلمان څخه کورنۍ واخلي او لکه د غرب په څیر انسان بې کورنۍ کړي او کمزورۍ یې کړي، یواځې او تنها یي کړي.

**واقعې مسلمانه کورنۍ ځینې ځانګړې صفات لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:**

**۱-** د واقعې مسلمانې کورنۍ یو ځانګړې صفت دادی چې د واقعې مسلمانې کورنۍ مشران مور او پلار به متدینه، دینداره او صالح اشخاص وي. دا هغه صفت دی چې د کورنۍ د تشکیل څخه لا ډیر د مخه اسلام وربانديې ټینګار کړی دی او اسلام وایې چې کله مسلمان ښځه کوي باید صالحه او متدینه ښځه وکړي ترڅو دکورنۍ اساس په دین بانـدې کیښـودل شـي اومسلمان بایـد دښځې مال، دولت او ظاهري ښایست ته ونه ګوري. په صحیح حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ). صحیح البخاري (۱۲/ ۵۷۵)

ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: (عادةً) ښځې نکاح کیږي د څلورو صفتونو لپاره د ښځې د مال لپاره ، دښځې د نسب او حسب لپاره او د ښځې دښایست لپاره او دښځې ددینداری لپاره ، کامیابې حاصله کړه په دینداره ښځې سره، محروم به شې له خیر نه که چیرې دا کار دې ونه کړ.
همدارنګه اسلام د ښځو اولیاوو ته امرکړی دی چې خپلې لوڼه او خویندې دینداره، متدینه او صالح شخص ته ورکړئ او د هغه مال، دولت ته مه ګورئ. په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَتَاكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ خُلُقَهُ وَدِينَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ» سنن ابن ماجه (۱/ ۶۳۲)
ترجمه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې تاسو ته راشي هغه څوک چې تاسو راضي یاست د هغه له اخلاقو څخه او دهغه ددین څخه نو په نکاح سره یي ورته ورکړئ(لور یا خور)، که چیرې دا کار ونه کړئ شئ به دا کار فتنه په ځمکه کې او فساد پراخه.
په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِى وَقَّاصٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : ( أَرْبَعٌ مِنَ اَلسعَادَةِ : الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ ، وَالْمَسْكَنُ اَلْوَاسِعُ ، وَاَلجَارُ الصَّالِحُ ، وَالْمَرْكَبُ اَلهَنِيءُ ) . صحیح ابن حبان (۹ /۳۴۰)
سعید بن ابی وقاص وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : څلور د سعادت او نیکبختۍ څیزونه دي : صالحه او دینداره ښځه ، پراخه استوګنځی ، صالح ګاوندی ،راحت او آسوده سپرلی.
چې د دینداره سړي او دینداره ښځې څخه به الله تعالی دینداره او صالح اولاد پیداکړي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لاَ يَخْرُجُ إِلاَّ نَكِدًا كَذَلِكَ نُصَرِّفُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ} الاعراف: (۵۸)ترجمه: او پاکیزه ښار، د هغې زرغونه د خپل رب په حکم سره راوځي او هغه (ځمکه) چې خرابه (ښوره) وي (د هغې زرغونه) نه راوځي مګر ناقصه، همدارنګه مونږ ایتونه بیا، بیا بیانوو د هغه قوم لپاره چې شکر وباسي
امام مجاهد وایي: (یعني أن في بني آدم الطیب والخبیث). تفسیر القرطبي (۷/ ۲۳۱)
یعنې په بني آدمانو کې پاک او خبیث شته دی.
دکومې مسلمانې کورنۍ مشران (مور او پلار، نیکه او مشر ورور) نیکان او صالح خلک نه وي، نو داسې کورنۍ نیمګړې ده.
په کورنۍ کې د کور مشران مور او پلار د رهنما او لارښود حیثیت لري او د کورنۍ کشران د کورنۍ د مشرانو پیروي کوي او د خپلـو اولادونو لپاره قدوه حسنه وي ، که چیرې دکورنۍ مشران فاسد وي نو د کورنۍ دمشرانو څخه به هر ډول فساد کشرانو متقل کیږي.
**۲-** واقعې مسلمانه کورنۍ په ایمان ولاړه وي. دمسلمانې کورنۍ بل صفت دادی چې مسلمانه کورنۍ به په ایمـان ولاړه وي . د مسلمانې کورنۍ اعضاء به دین ، تقوی، ولاړه وي او دکورنۍ د افـرادو تـرمنځ اړیکـې یـواځې د ایمـان پـر اساس برقـراره وي. الله تعالی فرمایلي دي: { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ }.الطور:(۲۱)

ترجمه:- او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او د دوی اولاد (هم) په ایمان کې د دوی متابعت کړی وي
د واقعي مسلمانې کورنی د غړو او افرادو لپاره د محبت ، دوستی او بغض معیار د الله محبت دی اومسلمانه کورنی چې د چا سره محبت او دوستي کوي نو دالله تعالی لپاره یي کوي او که له چا سره دښمني کوي نو هم دالله تعالی یي کوي .یعنې دالله تعالی ددوستانوسره دوستي کوي او دالله تعالی د دښمنانو سره دښمني کوي او دالله تعالی دددښمنانو سره روابط نه ساتي او دالله تعالی د دښمنانو سره د ژوند په هره برخه کې بیزاره وي؛ حتی چې دالله تعالی دددښمنانو سره په ناسته ولاړه، غم او ښادي، خوراک، څښاک، لباس کې ځان نه مشابه کوي اویواځې ورته د منلو وړ هغه څه وي چې په شریعت کې جواز ولري او هغه څه چې په اسلام کې جواز نلري له هغې څخه زیات ځان ساتي.
د مسلمانې کورنی د خپلوانو سره روابط هم په همدې اساس ولاړ وي او د هغو خپلوانو پاللو ته زیاته توجه کوي چې په شریعت برابر وي او چې له چا سره خپلوي کوي نو هم اساس یي شریعت وي او دهغو خلکو له خپلوی څخه ځانونه ساتي چې د الهي شریعت څخه لری وي.

۳- واقعي مسلمانه کورنی، هغه کورنی ده چې په لمانځه سره آباده وي. دمسلمانې کورنی اعضاء په جماعت سره د فرضي لمونځونو اهتمام کوي او د نوافلو په کولو کې زیار باسي او دلمانځه په اهتمام کې نر او ښځې او زلمي ټول یو شان حالت لري او داسې نه وي چې د کور سپین ږیري او زړې ښځې لمونځونه کوي خو ځوانان او پیغلې بیا وخت د مبایلونو په کتلو، دسریالونو او عبثیاتو کې تیروي. د مسلمانې کورنی د مشرانو دا مسئولیت دی چې خپل اهل او عیال ته په لمانځه امر وکړي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا}طه: (۱۳۲)
ترجمه:- او خپل اهل[د کورنی غړو] ته په لمانځه امر وکړه او خپله هم په لمانځه ثابت اوسه.
د مسلمانې کورنی صفت دادی چې کور په فرضي او نفلي عبادتونو باندې آباد ساتي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا»البخاري (۱/ ٤٤٢)
ترجمه:- د عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: وکړئ په کورونو خپلو کې د لمونځونو څه برخه او مه گرځوئ کورونه په شان د قبرونو. یعنې لکه څرنگه چې په قبرونو کې لمونځ نه کیږي او دلمانځه کولو څخه خالي وي داسې خپل کورونه له عبادت څخه مه خالي کوئ.
دامام مسلم په روایت کې راځي:عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلاَةَ فِى مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلاَتِهِ». صحیح مسلم (۲/ ۱۸۷)
له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې یو کس له ستاسې څخه لمونځ وکړي په مسجد خپل کې نو ودې گرځوي د خپل کور لپاره یو څه برخه د خپل لمانځه څخه.

همدا راز واقعي مسلمانه کورنی هغه کورنی ده چې په قیام اللیل به هم اهتمام کوي، ځکه د قیام الیل یا دتهجدو هغه لمونځ دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وربانديې همیشه والی کړی دی او د تهجدو لمونځ د صحابه کرامو او صالحینو لار ده. مسلمانه کورنی هغه ده چې د صحابه کرامو او تابعینو او صالحانو دعاداتو پیروي کوي.

په یو روایت کې راځي: چې د صالح بن حیی رحمه الله دوه زامن ؤ علي او حسن رحمهما الله دوی په خپل منځ کې شپه په درې برخو تقسیم کړی وه په لومړی برخه کې به علی رحمه الله تهجد کول او بیابه ویده کیده، په دوهمه برخه کې به حسن رحمه الله تهجدوته راپاڅیدلو او بیا به ویده کیده او په آخیري برخه کې به ددوی دواړو مور راپاڅیده او تهجد به یې کول.کله چې ددوی

دواړو مور وفات شوه نو بیا دواړو شپه په خپل منځ کې په دوه برخو وویشله، په لومړۍ برخه کې به علي رحمه الله تهجد کول او باقي د شپې په وروستۍ برخه کې به ترصباح پورې حسن رحمه الله تهجد کول.کله چې علي رحمه الله وفات شو،نو بیابه ټوله شپه تر صباح پورې حسن رحمه الله تهجدکول.

**۴- مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې په هغه کورنۍ چې دالله تعالی په ذکر او دقرآن کریم په تلاوت باندې ژوند کوي.**

د مسلمانې کورنۍ بل خصوصیت او صفت دادی چې مسلمانه کورنۍ تل دالله تعالی په ذکر او د قرآن کریم په تلاوت باندې آباده وي. هغه کورنۍ چې په هغې کې ذکر کیږي هغه ژوندۍ کورنۍ ده او په کومه کورنۍ چې ذکر نه کیږي هغه په حقیقت کې مړه کورنۍ ده، ولو که خلک یې ژوندي وي. په کومه کورنۍ کې چې د الله تعالی ذکر کیږي هغه د شیطان له وسوسو څخه په امن کې وي. نبي علیه السلام فرمایلي دي: عَنْ أَبِى مُوسَى عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِى يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ وَالْبَيْتِ الَّذِى لاَ يُذْكَرُ اللَّهُ فِيهِ مَثَلُ الْحَىِّ وَالْمَيِّتِ ». صحيح مسلم (۲/ ۱۸۸)

ژباړه:- دابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: مثال د هغه کور چې په هغه کې د الله ذکر کیږي او د هغه کور چې په هغه کور کې د الله تعالی ذکر نه کیږي ، په شان د ژوندي او د مړي دي. یعنې هغه کور چې د الله تعالی ذکر په کې کیږي هغه په شان د ژوندي انسان دی او په هغه کور کې چې د الله تعالی ذکر په کې نه کیږي په شان د مړي انسان دی.

د مسلمانې کورنۍ غړي په هغو اذکارو اهتمام کوي چې په شریعت کې راغلي دي لکه د ډوډۍ خوړلو او اوبو څښلو ذکر، د کورته دداخلیدو ذکر، له کور څخه د وتلو ذکر، حمام او بیت الخلاء ته دداخلیدو ذکر، د خوب او ویده کیدو ذکر او له خوب څخه د را پاڅیدو ذکر، د جامو اغوستلو ذکر او د جامو ویستلو ذکر ... په هر وخت کې ددې اذکارو خیال ساتل د واقعې مسلمانې کورنۍ صفت دی. همدرانګه په سهار او ماښام کې د قرآن کریم تلاوت کول او دجمعې په ورځ د سورت الکهف تلاوت کول د مسلمانې کورنۍ صفت دی.

او کومه کورنۍ چې د الله تعالی د ذکرخیال نه ساتي،تل د شیطاني وسوسو ښکار وي او داسې کورنۍ له فساد اومنکراتوخالي نه وي بلکې شیطان په کې ژاله جوړوي دکورنۍ غړي که هم ژوندي وي خو زړونه یې مړه وي،غوږونه،سترګې او نور جوارح یې د شیطاني اعمالوښکار وي.

**۵- مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې د کورنۍ غړي یې په اسلامي اخلاقو او آدابو سمبال وي.**

واقعې مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې د هغې کورنۍ د غړو او اولادونو په کړو وړو، حرکاتو او سکناتو، شخصي او اجتماعي ژوند کې اسلام منعکس وي او چې د مسلمانې کورنۍ د کوم غړي سره مخامخ شی لکه چې د واقعې مسلمان سره مخ شوی یی.

**٦- واقعې مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ته چې له هر ډول منکراتو او خلاف شرع کارونو څخه پاکه وي.**

واقعې مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې د منکراتو له اسبابو او خلاف شرع کارونو څخه پاکه وي او په هغه کورنۍ کې د منکراتو وسائل لکه تلویزون، ډش،فضایې نشراتي وسائل شتون ونلري، ځکه دا هغه وسائل دي چې په کورنۍ کې منکرات خپره وي او د کورنۍ غړي له دین څخه لرې باسي.

**۷- واقعې مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې دخپلو اولادونو صالحه او نیکه روزنه او تربیه وکړي.**

داچې اولادونه د مور او پلار سره یو ډول امانت دی، د کورنۍ مور او پلار او نور مشران باید په اسلامي روحیه او دیني فکر باندې وروزي ځکه چې دا دمور او پلار مسئولیت دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا ».صحيح البخاري

ژباړه :- ستاسو څخه هر یو ساتونکی او مسؤول دی او ستاسو هر یو کس د خپل رعیت په اړه مسؤول دی.( د رعیت په اړه به له ده څخه پوښتنه کیږي) . د ټولنې رهبر د خپل رعیت ساتونکی دی او د خپل رعیت مسئول دی ، سړی د خپل کور د اهل مسئول دی ، ښځه د میړه په کور کې د خپل اولاد مسئوله ده.

امام غزالي رحمه الله د اولاد د صالحه روزنې په اړه داسې لیکلي دي: (اعلم أن الطريق في رياضة الصبيان من أهم الأمور وأوكدها والصبيان أمانة عند والديه وقلبه الطاهر جوهرة نفيسة ساذجة خالية عن كل نقش وصورة وهو قابل لكل ما نقش ومائل إلى كل ما يمال به إليه فإن عود الخير وعلمه نشأ عليه وسعد في الدنيا والآخرة وشاركه في ثوابه أبوه وكل معلم له ومؤدب وإن عود الشر وأهمل إهمال البهائم شقي وهلك وكان الوزر في رقبة القيم عليه والوالي له وقد قال الله عز وجل { يا أيها الذين آمنوا قوا أنفسكم وأهليكم نارا }

ومهما كان الأب يصونه عن نار الدنيا فبأن يصونه عن نار الآخرة أولى وصيانته بأن يؤدبه ويهذبه ويعلمه محاسن الأخلاق ويحفظه من القرناء السوء ولا يعوده التنعم ولا يحبب إليه الزينة والرفاهية فيضيع عمره في طلبها إذا كبر فيهلك هلاك الأبد ) إحياء علوم الدين (٣/ ٧٢)

ژباړه:- پوهه شه چې د کوچنیانو تربیه کول د خورا مهمو او ضروري کارونو څخه ده او ماشومان د خپل مور او پلار سره امانت دي؛ د ماشوم پاک زړه ډیر سپیڅلی او ساده جوهر دی، د هر ډول نقش او انځور څخه خالي دی او د هر ډول نقش لپاره چمتووالی دی او هرې خوا ته یي چې څوک گرځوي او اړوي، میلان کوي او گرځي، که چیرې په نیکیو عادت کړای شو او نیکي ورته وښودل شوه، په نیکۍ لوئیږي او په دنیا او آخرت کې به نیکبخته وي او په دې نیکبختۍ کې به مور او پلار، هر معلم او هر ادب ورکوونکی ورسره شریک وي او که چیرې په شر باندې عادت کړای شو او یا دځارویو په څیر ورته هیڅ ډول توجه ونه شوه، بد بخته به شي او هلاک به شي او گناه به یي د سرپرست په غاړه وي او حال داچې الله تعالی فرمایلي دي: { يا أيها الذين آمنوا قوا أنفسكم وأهليكم نارا } ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! وساتئ ځانونه خپل او او اهل [د کورنۍ غړي] له اور څخه. او داچې تل پلار خپل اولاد ددنیا له اور څخه ساتي داچې د آخرت له اور څخه یي وساتي دا ډیره غوره ده او ساتل د اولاد دادي چې ادب او تهذیب ورته وښایي او نیک اخلاق ورته ور وښایې او له بدو ملگرو څخه یې وساتي او په نعمتونو باندې دې نه اموخته کوي او ښایست او رفاهیت دې ورته نه ورکوي ځکه هغه به بیا ټول عمر د ښایست او رفاهیت په طلب کې ضائع کوي کله چې لوی شي؛نو د ابد لپاره به هلاک شي.

**٨-** مسلمانه کورنۍ هغه کورنۍ ده چې په هغه کورنۍ کې حیاء حاکمه وي.

په واقعې مسلمانه کورنۍ کې باید د حیاء صفت حاکم وي؛ ځکه حیاء نه راوړي مگر خیر. په هغه کورنۍ کې چې حیاء نه وي په هغه کورنۍ کې بې حیایې، سپین سترگي او هر ډول بد اخلاق ځای نیسي او د کورنۍ عزت او کرامت له منځه وړي.

حیاء د ټولو نیکیو او نیکبختیو سرچینه ده او بې حیایې د ټولو بدیو او بدبختیو سبب دی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ، وَالإِيمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَالبَذَاءُ مِنَ الجَفَاءِ، وَالجَفَاءُ فِي النَّارِ»: سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٣٦٥)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: حیاء د ایمان برخه ده او ایمان به په جنت کې وي او بده وینا جفاء ده او جفاء به په اور کې وي.

**٩-** د مسلمانې کورنۍ بل صفت دادی چې د کورنۍ غړي به یو دبل سره په نیکۍ کې مرسته او تعاون کوي.

مسلمانه کورنۍ هغه ده چې د کورنۍ اعضاء یو له بل سره په تقوی او نیکۍ کې مرسته او همکاري کوي، د الله تعالی او دالله تعالی او د رسول صلی الله علیه وسلم په طاعت کې یو له بل سره مرسته او همکاري کوي، که چیرې د کومې ښځې په کارونو کې کمزوري او قصور وي؛ نو صالح سړی له هغې سره مرسته کوي او اوضاع سموي او کور سلوک درستوي او د ښځې داصلاح لپاره کوښښ کوي او کوښښ کوي چې ښځه او یا اولاد له هغه څه نه واړوي چې د شریعت خلاف دي. همدا راز ښځه هم له

خاوند سره مرسته کوي او که په خاوند کې کوم خلل او شرعي نقصان ويني نو ورباندې صبر کوي او هغه تحمل کوي او کوښښ کوي چې د نصيحت او غوره سلوک له لارې خپل خاوند د هغه کار څخه واړوي چې الله تعالی او د هغه رسول ورباندې خپه کيږي او ناراضه کيږي. په مسلمانه کورنۍ کې خاوند او ښځه يو له بل سره او له اولادونو سره د نيکۍ په کولو کې مرسته کوي؛ آن تر دې چې د عبادت په کولوکې ورسره مرسته کوي.په يوحديث شريف کې راځی:عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّى مِنَ اللَّيْلِ فَإِذَا أَوْتَرَ قَالَ«قُومِى فَأَوْتِرِى يَا عَائِشَةُ». صحيح مسلم (٢/ ١٦٨)

ژباړه:- دعائشه رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم به دشپې لمونځ (تهجد) کولو کله به يې چې وتر لمونځ وکړ؛ نو وبه ويل: پاځيږه وتر لمونځ وکړه ای عائشې!

په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِى وَجْهِهَا الْمَاءَ رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِى وَجْهِهِ الْمَاءَ ». سنن أبى داود-ن (١/ ٥٠٤)

ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله تعالی دې پر هغه سړي رحم وکړي چې د شپې پاځيږي او لمونځ (تهجد) وکړي او پاڅوئ خپله ښځه (لمانځه ته) که چيرې نه پاڅيده نو وپاشي په مخ د هغې باندې اوبه (ترڅو له خوبه راويښه شي)

او الله تعالی دې پر هغه ښځه رحم وکړي چې د شپې پاځيږي او لمونځ(تهجد) وکړي او خپل خاوند هم راپاڅوي (لمونځ ته) او که چيرې نه پاځيده ؛ نو وپاشي په مخ د هغې اوبه (ترڅو له خوبه راويښ شي)

**۱۰-**واقعې مسلمانه کورنۍ هغه ده چې گاونډيان يې له لاس او ژبې د ضرر څخه په امن کې وي.

زيات وخت ځينې کورنۍ په عبادت او طاعت باندې مشهوره وي خو د گاونډيانو سره بده معامله کوي او گاونډيانو ته يې ضرر رسيږي چې داسې کورنۍ د سعادت مقام ته نشي رسولی، ځکه چې په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ».متفق عليه

ژباړه:- د حضرت عائشې رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: تل به جبرائيل عليه السلام ماته وصيت کولو دگاونډي په هکله تر دې پورې چې ما گمان وکړ چې الله تعالی به گاونډي شريک کړي د بل گاونډي سره په ميراث کې.

**۱۱-** واقعې مسلمانه کورنۍ هغه ده چې د کورنۍ د اعضاوو ترمنځ يې مينه او محبت وي.

د واقعې مسلمانې کورنۍ بل صفت دادی چې د کورنۍ د غړو ترمنځ به متقابل احترام وي، کشران به د لويانو احترام کوي او لويان به په کشرانو شفقت کوي.الله تعالی فرمايلي دي:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجاً لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ}الروم: (٢١)

ترجمه:- او د هغه له نښو څخه دا دي چې تاسو لپاره يې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پيدا کړې، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مايله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مينځ کې مينه او مهرباني پيدا کړه، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي

په حديث شريف کې راځي: عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما قال : قال رسول الله :« لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا». الأدب المفرد للبخاري (ص: ٨١) و الترمذي (٤/ ٣٢٢)

ژباړه:- د عبدالله بت عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې نبي عليه السلام وفرمايل: نه دی زمونږ څخه هغه څوک چې زمونږ په ماشوم رحم نکوي او عزت نکوي زمونږ د لويانو.

**۱۲-** د واقعې مسلمانې کورنۍ بل صفت دادی چې مسلمانه کورنۍ به د ژوند په هره برخه کې له اسراف او تبذير څخه ځان ساتي.

د واقعي مسلمانې کورنۍ بل صفت به داوي چې د خوراک، څښاک، اغوستلو کې به له اسراف څخه ځان ساتي او دالله له نعمتونو څخه به د ضرورت په اندازه استفاده کوي او همدا راز په نعمتونو په کبر نکوي او دالله تعالی په بندګانو به هم ځان لوی او غني نه ګڼي؛ ځکه دا هغه صفات دي چې د کمال په مخکې خنډ واقع کیږي او شریعت مذموم ګرځولي دي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا(٢٦) إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا}الاسراء: (٢٧)

ترجمه:- او اسراف مه کوه، اسراف کول بېشکه اسراف کوونکي د شيطانانو ورونه دي او شيطان له همېشه د خپل رب ډېر ناشکره دی

په حديث شريف کې راځي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍعَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ«لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِى قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ».قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنَةً.قَالَ« إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ»صحيح مسلم (١/ ٦٥)

ژباړه:- د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام څخه روايت نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: داخل به نشي جنت ته هغه څوک چې په زړه کې يې په اندازه د ذرې کبر وي .يو سړي وويل: بيشکه سړی خوښ ګڼي داچې د هغه جامه دې ښايسته وي او د هغه پيزار دې ښايسته وي؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: بيشکه الله تعالی ښايسته دی (بلاکيف) او ښايست خوښوي، کبر د حق ردول او د خلکو حقير ګڼل دي.